افغانستان آزاد – آزاد افغانستان
AA-AA
چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم
www.afgazad.com afgazad@gmail.com
Political سیاسی

د زیار نشریه- نوید
۱۴ می ۲۰۱۹

# کابل د ناامنیو ښار

کابل ورځ تر بلې د ناامن کیدو په حال کې دی. داسي ورځ به نه وي چې په ښار کې دننه کومه ناوړه امنیتي پیښه رامنځته نشي. هره ورځ چاودني، تښتوني، وژل، غلاوې او شوکې د کابل ښاریانو د ورځني ژوند انځور دی. هیڅوک د امنیت او خوندیتوب احساس نه کوي. دغو ناامنیو د کابل ښار اوسیدونکي له پراخو ستونزو او زیاتو ناهیلیو سره مخامخ کړي دي.

د ملي وحشت حکومت چارواکي ټوله ورځ له یو بل سره په چنې وهلو او امتیازاتو اخیستلو تیروي. څوک نشته چې د پلازمیني امنیتي حالت ته پام وکړي. دغه وضعیت د دې لامل شوی چې د پام وړ پانګه له هیواد څخه بهر ته ولاړه شي او زرګونه هیوادوال مو د ناامنیو له کبله پردیو هیوادونو ته وتښتي.

په دغو ناامنیو کې تر ټولو ځورونکی وضعیت چې کورنی یې اندیښمنې کړې دي، تښتوني او په رڼا ورځ وژني دي. په کابل کې مختلفې مافیایي کړۍ او جنایتکارې ډلې شته چې ټولې تښتوني او وژنې د دوی لخوا تر سره کیږي. دغه مافیایي کړۍ او ډلې په دولت کې پراخ ملاتړ لري او هره ډله په خپل وار سره د دولت لوړپوړو چارواکو ته حق ورکوي. که دغه جنایتکارې ډلې د دولت د لوړپوړو چارواکو ملاتړ له ځان سره ونه لري، هیڅ امکان نه لري چې دوی دې په رڼا ورځ خلک وتښتوي او یا هم په ډاډه زړه قتلونه وکړي.

تر ټولو بوږنوونکی او کرغیړن عمل د میرمنو او نجونو تښتول او یا هم وژل دي، ځکه زموږ ټولنه تر ټولو محافظه کاره او مذهبي ده او په داسي ټولنو کې د ښځو او نجونو تښتول او بیا د هغوی وژل کورنی ته د تل لپاره د ننګ او ناموس رټه پاتي کوي. دغه جنایتکارې ډلې په ډیرې بې رحمي سره ماشومان، نجوني، میرمني او نارینه تښتوي او په بدل کې یې پریمانه پیسي غواړي، که چیرې کورنی ونکړای شي، غوښتل شوې پیسي چمتو کړي، انسان تښتوونکي له کوم ځنډ پرته تښتول شوی کس وژني؛ ځکه دوی پوهیږي چې د افغانستان عدلي، قضایي او امنیتي سیستم دومره کمزوری او فاسد دی چې نشي کولای دغه کسان د قانون منګولو ته وسپاري.

کابل د نړۍ تر ټولو ناامن ښار ګڼل کیږي. د انسان وژل په کابل ښار کې د جنایتکارو ډلو د ورځني فعالیت یوه برخه جوړوي. ځیني وژني د شخصي دښمنۍ پر بنسټ دي او ځیني نورې سیاسي او ترهګریزه بڼه لري. جنایتکارو ډلو د خپلو دغو کړنو په تر سره کولو سره پر کابل ښاریانو د ژوند کړۍ تنګه کړې ده. پولیس هم چې باید یې د خلکو امنیت خوندي کړی وای، په زیاتو دغو پیښو کې ښکیل دي او هره حوزه په خپلې سیمې کې له دغو جنایتکارو ډلو څخه حق اخلي. د امنیتي حوزو د آمرینو تر شا هم لوی لاسونه دي او ورڅخه ملاتړ کوي.

کابل ښار د اوسیدونکو لپاره په یو زندان بدل شوی دی.